جمعية خدمة المحتوى
الإسلامي باللغات

منهج الصف الثاني الابتدائي، التوحيد والفقه

بشتو

پښتو

تعليمي نصاب – څلورم ټولګی

توحيد او فقه




بسم الله الرحمن الرحيم

عنوان:

درسي نصـــــاب،

توحيـــــــــد،

سويـــــه (دويمه).

لنډه کتنه:

دا علمي مضمون په سعودي عربستان کې د زده کوونکو لپاره لنډیز شوی تعلیمي نصاب دی چې په بېلابېلو سویو ویشل کیږي، سربیره پردې دا یو مضمون دی چې د توحید د زده کړې تدریس ته ځانګړی شوی او په دولسو مرحلو (سویو) ویشل کیږي. له خورا اړینو موضوعاتو څخه چې په لومړۍ سویه کې راغلي هغه درې ګوني اصول دي چې په هر انسان پې پېژندل واجب دي لکه:

- بنده لره د خپل رب پېژندل او دا چې له هر چا پرته یوازې د هغه عبادت فرض دی.
- بنده لره د خپل دین پېژندل او دا چې دین درې مرتبې لري چې عبارت دي له: اسلام، ایمان او احسان څخه، او د هرې مرتبې د معنا او دلایلو تشریح کول.
- بنده لره د خپل پېغمبر محمد صلی الله علیه وسلم پېژندل، د هغه پیروي او ورسره د محبت کولو د حکم بیانول.

دويمه سويه

سريزه

الحمدُ لله الذي عَلَّم بِالقَلَم، علَّم الإنسانَ ما لم يَعْلَم، والصَّلاةُ والسَّلام على النَّبِيِّ الأُمِّيِّ الكَريمِ الذي بَعَثَه اللهُ لِيُخرِجَ النّاسَ مِن الظُّلمات إلى النُّور، أمّا بعد:

د الله جل جلاله توحيد هغه واجب دی چې د نورو واجباتو په پرتله پرې زيات ټينګار شوی او پرې پوهېدل تر ټولو عزتمند او غوره علم دی، دا هغه بنسټ دی چې د عملونو صحت او قبليدل پرې بنا دي، او بندګان ورته تر هر څه زياته اړتيا لري؛ ځکه چې د زړونو لپاره هيڅ ژوند، خوشحالي او سکون نشته، پرته له دې چې خپل رب، معبود او پيدا کوونکی ذات د هغه په نومونو، صفتونو او افعالو سره وپيژني.

او لکه څرنګه چې په دين کې پوهه تر لاسه کول، او د عبادتونو د ادا کولو په څرنګوالي پوهېدل لکه: طهارت، لمونځ او لدې دواړو پرته نور د نيکبختۍ نښې او د دې خبرې نښه ده چې الله تعالی خپل دې بنده ته د خپر اراده کړې ده، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

« مَن يُرِد الله بِه خيراً يُفَقِّهه في الدِّين ».

«چا ته چې الله تعالی د خپر اراده وکړي، هغه ته په دين کې پوهه ورکوي» .

د همدې پر بنسټ د ټولنو د پوهاوي دفتر د توحيد مضمون په تدريس ټينګار کوي، تر څو زده کوونکي په سمه عقيده وروزل شي، فقهي احکام زده کړي او په مشروع ډول عبادتونه ادا کړي او په ديني چارو کې روښنايي او بصيرت ولري.

د توحيد مضمون په دې لوستونو کې په ساده توګه د دين مرتبې او هغه درې ګوني اصول ذکر شوي چې په هر انسان يې پېژندل واجب دي.

بخاري په (۷) شمېره راوړی دی.

ښوونکې ته لارښودنې:

۱ - الله تعالی ته اخلاص د عمل د قبلیدو شرط دی، نو عمل دې خاص د پاک الله لپاره وکړئوه چې په دنیا او اخرت کې سودمن شې.

۲- امانت ساتل د خلاصون لاره ده - ښوونکي وروره - ته د اسلام له سنګرونو څخه په یو سنګر کې یې، او د مسلمانانو د اولادونو په عقلونو او فطرت امانتدار یې، نو د امانت ساتنه وکړه چې په دنیا او اخرت کې کامیابي ترلاسه کړې.

3- د توحید د مضمون زده کړه له غوره عملونو څخه دی، د بندګانو لپاره له د توحید له پېژندلو او پرې له عمل کولو پرته نه سمونتیا شته او نه د دنیا له خواری او د آخرت له عذابه خلاصېدل، نو په زده کوونکو کې د سمې عقیدې په کښت کې زیار وباسه، ریښتینی ترجمان او د هغه څه لپاره په غوره خویونو او لوړو اخلاقو کې ژوندی بیلګه اوسه چې ته بلنه ورکوې.

۴- د الله تعالی د وحدانیت او د هغه د قدرت د بیانولو لپاره له حالاتو ګټه پورته کړه، (د بیلګې په توګه) کله چې ورېځې د اسمان په زړه راخپرې شي، بریښناګانې وپرقیږي او غراری شي، بارانونه ووریږي او داسې نورې پېښې په مسلمانانو کې د ایماني خوځښت لپاره غنیمت وګڼه.

۵- د بیلګو په بیانولو سره د موضوع اسانه کول او لوست ته له واقعیت سره تړاو ورکول له مضمون سره د زده کوونکو د مینې په پیدا کولو کې ستر رول لوبوي، چې بیا یې زده کوي او عمل پرې کوي. او په پای کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې وینا سره زیری درکوو چې فرمایي:

« إنّ ممّا يَلْحَق المؤمِنَ مِن عَمَلِهِ وحَسَناتِه بعد مَوْتِه عِلْماً علَّمَه ونَشَرَه » .

«د مؤمنانو له عملونو او نیکیو څخه چې کوم یو له مرګ نه وروسته هغه ته رسیږي؛ هغه علم دی چې زده کړی او خپور کړی یې دی» .

ابن ماجه په ۲۴۲ شمیره رو ایت کړی.

د توحید نصاب:

موضوع	مخ
لومړی لوست: هغو موضوعاتو ته بیا کتنه چې په لومړۍ سویه کې لوستل شوي دي.	٦
دویم لوست: دري ګوني اصول	٧
دریم لوست: لومړی اصل: بنده لره د خپل رب پېژندل.	٩
څلورم لوست: د پیریانو او انسانانو له پیدایښت څخه حکمت	١٣
پنځم لوست: یوازې د یو الله جل جلاله د عبادت فرضیت	١٦
شپږم لوست: له الله جل جلاله پرته د بل څه عبادت کول شرک دی	١٨
اووم لوست: دویم اصل: بنده لره د خپل دین پېژندل	٢٠
اتم لوست: د دین مرتبې (لومړۍ مرتبه: اسلام)	٢١
نهم لوست: د شهادتینو معنا	٢٦
لسم لوست: دویمه مرتبه (ایمان)	٢٩
یوولسم لوست: په بیا راژوندي کېدو ایمان	٣٢
دولسم لوست: دریمه مرتبه (احسان)	٣٤
دیارلسم لوست: دریم اصل: بنده لره د خپل پېغمبر محمد صلی الله علیه وسلم پېژندل	٣٦

لومړی لوست

هغو موضوعاتو ته بیا کتنه چې په لومړۍ سویه کې لوستل شوي دي.



۱ رب دې څوک دی؟

.....

۲ الله جل جلاله چیرته دی؟

.....

۳ چا پیدا کړی یې او څوک روزي درکوي؟

.....

۴ الله تعالی فرمایلي:

﴿اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ﴾ (الله تعالی د ټولو شیانو پیدا کوونکی دی). زمر سورت ۲۶ آیت.

د الله تعالی له مخلوقاتو څخه یې درې وښیه.

1-.....2-.....

3-.....

۵ څوک باران وروي؟

.....

۶ پیغمبر محمد ﷺ چاته لیږل شوی دی؟

.....

۷ تش ځایونه په لاندې مناسبو کلمو سره ډک کړئ

محمد ﷺ	اسلام	اور	الله جل جلاله	جنت	قرآن کریم

أ- هغه ذات چې کله زه ناروغ شم ماته شفا راکوي هغه .....دی.

ب- دین مې ..... دی.

پیغمبر مې .....دی.

هغه کتاب چې الله جل جلاله په خپل پیغمبر محمد ﷺ نازل کړی هغه .....دی.

هـ- چا چې د رسول اطاعت وکړ هغه به ..... ته او چا یې چې نافرماني وکړه هغه به ..... داخلیږي.

درې ګوني اصول [۵]

۱ بنده لره د خپل رب پېژندل

۲ بنده لره د خپل دين پېژندل

۳ بنده لره د خپل پېغمبر ﷺ پېژندل

رسول الله ﷺ فرمايلي:

« ذاقَ طَعْمَ الإيمانِ مَن رَضِيَ بِاللهِ رَبّاً، وبِالإسْلامِ دِيناً، وبِمُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم نَبِيّا»

«هغه چا د ايمان خوند څكلى چې په الله درب، په اسلام د دين او په محمد ﷺ د پېغمبر په توګه راضي دى».

مسلم په (۳۴ شمېره روايت کړى.)



۴- د لوست موخې:

زده کوونکى

- د اسلام درې ګوني اصول وشمېرې.
- د اسلام د درې ګونو اصولو لپاره دليل وو ايې.
- د اسلام په دين وويارې.

۵- ښوونکې ته!

- د شيخ محمد بن عبدالوهاب - رحمه الله - معرفي کول - او په دې هبواد او نورو ځايونو کې د توحيد په خپرولو کې د هغه د هڅو داسې ستاينه کول چې د زده کونکو له ذهني سويې سره مناسب وي. د لا زياتو معلومات لپاره وګورئ: (عنوان المجد في تاريخ نجد) د ابن بشر. او (تاريخ نجد) د ابن غنّام.
د "اصل" د کلمې تشريح - اصل: د يو شي هغه بنسټ ته و ايې چې هغه پرې ولاړوي.
- نو دا درې ګوني اصول هغه څه دي چې له انسان څخه يې په قبر کې پوښتنه کيږي چې (ستا رب څوک دى؟ ستا دين څه دى؟ او ستا پېغمبر څوک دى؟) نو چا چې ځواب ورکړ، الله تعالى به يې په جنتونو ونازوي او چا چې ځواب ورنکړ دردناک عذاب به ورکړي، لکه څرنګه چې د براء بن عازب رضي الله عنه په حديث کې راغلي دي، کوم چې ابو داود په (۴۷۵۳) شمېره رو ايت کړى دى.

پوښتنې:

؟

۱ لاندې تش ځایونه ډک کړئ:

هغه درې ګوني اصول چې په هر انسان يې پېژندل واجب دي:

۱- بنده لره د خپل ..... پېژندل.

۲- بنده لره د خپل .....پېژندل

۳ - بنده لره د خپل .....پېژندل.

۲ د هغو درې ګونو اصولو دليل څه شی دی چې په هر انسان يې پېژندل واجب دي:

.....

۳ له بنده څخه په قبر کې درې پوښتنې کيږي:

۱ رب دې څوک دی؟

۲ دين دې څه شی دی؟

۳ او نبي دې څوک دی؟



لومړی اصل: بنده لره د خپل رب پېژندل [۷]

درې ګوڼي اصول:

۱ بنده لره د خپل رب پېژندل

۲ بنده لره د خپل دين پېژندل

۳ بنده لره د خپل پېغمبر ﷺ پېژندل

رب مې الله دی:

- هغه ذات چې؛ پيدا کوونکی، روزي ورکوونکی او کارساز دی، هغه ذات چې له هر چا پرته يوازې د عبادت وړ دی.
- زه خپل رب د هغه په نښانو او مخلوقاتو پېژنم لکه شپه او ورځ، لمر او سپوږمۍ او اسمانونه او ځمکه.

۶- د لوست موخې:

- چې زده کوونکی د درې کونو اصولو څخه لومړی اصل یاد کړي.
- د رب معنا تشریح کړي.
- د الله تعالی خپلې مخلوقاتو وشمیرې.

۷- ښوونکي ته!

- دا به غوره وي چې لوست د ټولګي څخه د باندې تشریح شي، ترڅو په زده کوونکو کې د الله تعالی د مخلوقاتو په اړه د فکر کولو انګیزه پیدا شي، سربیره پر دې باید پر آیتونو او احادیثو استدلال وشي.
- الله جل جلاله فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (21) الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرَاشًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَندَادًا وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾. [البقرة: ۲۱-۲۲]. (ای خلکو! د خپل رب عبادت کوئ، هغه چې تاسو پې پیدا کړي ئ او هغه کسان چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ . هغه (رب) چې ستاسو لپاره يې ځمکه فرش او آسمان چت جوړکړی دی او له پاسه يې اوبه نازلې کړي دي، بيا يې په دغو سره له مبوو نه ستاسو لپاره رزق راوښتلی دی، نو له الله سره هېڅ قسمه شريکان مه جوړوئ، حال دا چې تاسو پوهېږئ).
- ابن کثير رحمه الله فرمايي: (د دغو شيانو پيدا کوونکی، همدې د عبادت وړ دی).
- دا خبره واضح کول چې د الله تعالی په مخلوقاتو کې فکر کول عبادت دی.
- زده کوونکو ته لارښوونه چې په سوکالی کې د الله تعالی څخه (د کتور علم او حلال رزق) سوال وکړي او په سختی کې هم لکه (له ناروغی څخه رغيدل او له کراو څخه د خلاصون) دعا وکړي.
- خلک هڅول چې د الله تعالی په لوبو نعمتونو شکر وباسي لکه: لمر او سپوږمی چې انسانانو، حيوانا تو او بوټو ته يې شمېره کټې لري.

دویم لوست[۶] لومړی اصل: بنده لره د خپل رب پېژندل[۷]

الله تعالى فرمايلي:

﴿وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ۚ لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ﴾

(او د هغه له نښانو څخه شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ ده، مه لمر ته سجده کوئ او مه سپوږمۍ ته، او (یوازې) هغه الله ته سجده وکړئ چې هغه (ټول) یې پیدا کړي دي، که چېرې تاسو یوازې د هغه عبادت کوئ).

[فصلت سورت: 37 آیت].

زه مسلمان یم، باور لرم چې الله جل جلاله مخلوقات پیدا کړي او روزي ورکوي، هغه د دې کایناتو چار سمبالی او یوازې د عبادت مستحق دی.



پوښتنې:

۱ د رب معنا څه شی دی؟


.....

۲ لاندې تش ځایونه ډک کړئ:

زه خپل رب د هغه په ..... او .....پیژنم.

هغه ذات چې شپه او ورځ یې پیدا کړي همغه .د ..... ور دی

۳ د الله تعالی درې ډوله مخلوقات وښیه.



۴ په آیت کې د الله تعالی د (قدرت) د نښانو لاندې کرښه وکاږئ

الله تعالی فرمایلي:

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى وَأَنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ﴾

(ایا تا نه دي لیدلي چې بېشکه الله شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپه کې ننباسي او هغه لمر او سپوږمۍ مسخر کړي (په کار اچولي) دي، هر یو یې تر مقرري نېټې پورې روان دی او دا چې بېشکه هغه الله په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ؛ ښه خبردار دی).[لقمان سورت: 12] آیت.

۵ لمر او سپوږمۍ د الله تعالی له سترو مخلوقاتو څخه دي چې الله موږ ته راکړي دي. د هر یو یوه ګټه وښیئ:

.....

.....

.....

.....

.....



دويم لوست (۸)

د پيريانو او انسانانو له پيدابښت څخه حکمت (۹)

الله جل جلاله پيريان او انسانان يوازې د خپل عبادت لپاره پيدا کړي دي.

دليل يې د الله تعالى دا وينا ده: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾

«او ما پيريان او انسانان نه دي پيدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي».

[الذاريات سورت: ٥٦ آيت]

عبـــــادت:

د هغو ښکاره او پټو ويناوو او کړنو لپاره يو جامع نوم دی چې الله جل جلاله يې خوښوي او پرې راضی کيږی.



۸- د لوست موخې:

چې زده کوونکی:

- د پيريانو او انسانانو له پيدا کيدو څخه حکمت بيان کړی شي.
- د عبادت معنا تشريح کړي.

۷- ښوونکې ته!

موضوع په داسې بوې پيلبزې پيلول چې هرڅه چې الله پيدا کړي او يا يې پرې امر کړی نو د هغې ترشا حکمت شتون لري لکه: د انسان پيدا کول: چې هغه بې خايه نه دی پيدا شوی، بلکې د يولوی هدف لپاره پيدا شوی چې يوازې د الله عبادت دی، هغه ذات چې يو دی او شريک نه لري، الله تعالى فرمايلي: ﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ﴾[المؤمنون: ١١٥]، (آيا نو تاسو ګومان کوئ چې بېشکه مونږ تاسو عبث پيدا کړي ياست او دا چې بېشکه تاسو به مونږ ته نه راوستل کېږئ). د ظاهري عبادتونو لپاره نور مثالونه ورا ندې کول (هغه عبادتونه چې په اندامونو کېږي) لکه: زکات، حج، حلاله. او نور مثالونه د باطني عبادتونو لپاره (د زړه اعمال) لکه: محبت، ويره، هيله مندي او داسې نور.

- د دې خبرې وضاحت چې په عبادت سره سينه پراخيږي، الله تعالى فرمايلي: ﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾ [النحل: ٩٧].(چا چې نېک عمل وکړ، سړی وي، يا ښځه، په داسې حال کې چې مومن وي، نو خامخا به مونږ هغه ته ژوند ورکړو، ډېر پاکېزه ژوند او خامخا به مونږ هغوی ته د هغوی د اجر جزا ورکړو د هغو ترتولو ښو عملونو په بدل کې چې دوی به کول).

د عبادت له بیلګو څخه:

- د الله تعالی سره محبت کول
- له هغه نه ویریدل
- دعا
- لمونځ
- روژه او د مور او پلار سره نیکي.

او عبادت د سیني د پراخیدو او د زړه د سکون لامل دی.



پوښتنې:

۱ ته الله تعالی د یو لوی حکمت لپاره پیدا کړی یې، له دلیل سره یې وښیه.

.....

.....

.....

۲ لاندې تش ځایونه ډک کړئ:

عبادت: د هغو ښکاره او ..... او ..... یو جامع نوم دی چې الله جل جلاله یې خوښوي او پرې راضی کیږی.

د عبادت له ډولونو څخه: لمونځ .....، .....، او .....دي.

۴ الله تعالی فرمایلي:

﴿وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً﴾

(چا چې نېک عمل وکړ، سړی وي، یا ښځه، په داسې حال کې چې مومن وي، نو خامخا به مونږ هغه ته ژوند ورکړو، ډېر پاکیزه ژوند). [النحل سورت: ۷۹] آیت.

ښه ژوند څنګه تر لاسه کیږي؟

.....

.....

.....

.....

.....

څلورم لوست[10]

يوازې د يو الله جل جلاله د عبادت فرضيت[11]

ترټولو لوی څیز چې الله تعالی پرې امر کړی توحید دی، او هغه یوازې د یو الله عبادت دی.

ترټولو لوی شی چې الله تعالی حرام کړی شرک دی، چې له الله پرته د هغه سره د بل چا عبادت دی.

دلیل یې د الله تعالی دا وینا ده:

﴿قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا أُشْرِكَ بِهِ﴾

(ته (دوی ته) ووایه: یقیناً زه خو یوائې د خپل رب عبادت کوم او زه به له ده سره هیڅوک شریك نه کړم).

الرعد سورت: ۳۶ آیت



۱۰- د لوست موخې:

- چې زده کوونکی له شرک نه ځان وساتي کوم چې د توحید ضد دی.
- په عبادت سره د الله تعالی په یووالي دلیل وو ایي.
- د توحید عظمت بیان کړي.

۱۱- ښوونکې ته!

د دې خبرې وضاحت چې د ټولو پیغمبر انو پیغام یو دی چې توحید ته بلنه او له شرک ځخه منع کول دي او د خینو پیغمبر انو کیسې دي چې دلالت پرې کوي، لکه څنګه چې په الأعراف سورت او نورو کې راغلي دي.

- د توحید اهمیت بیانول او دا چې له دې پرته په دنیا او اخرت کې نېکبختي نشته.
- د شرک د خطر په اړه وضاحت او دا چې دا په دنیا کې د بدبختۍ او په آخرت کې د عذاب لوی لامل دی، له دې امله ابراهیم علیه السلام له خپل رب ځخه دعا وغوښتنه چې :﴿وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعْبُدَ الْأَصْنَامَ﴾ [إبراهيم: ۳۵]. (او ما او زما اولادونه له دې وساته چې د بوتانو عبادت وکړو).
- د شرک د ځینو ډولونو بیانول لکه: له الله تعالی پرته بل چاته ذبح کول، په غیرالله قسم خوړل، د مصیبت د لرې کولو او دفع کولو لپاره د تعویذونو، بندونو، مربو ځړول.

پوښتنې:

۱ له الله پرته د بل چا عبادت ته څه وايي؟

.....

.....

.....

۲ لاندې تش ځايونه ډک کړئ:

تر ټولو ستر څيز چې الله پرې امر کړی ..... دی.

تر ټولو ستر څيز چې الله ترې منع کړې ..... دی.

تو حيد په ..... او اخرت کې د نيکمرغۍ لار ده.

شرک په دنيا کې د لويې بدبختۍ او په ..... کې د عذاب لامل دی.

۴ د دې دليل ووايه چې يوازې د يو الله عبادت واجب دی.

.....

.....

.....



پنځم لوست[۱۲]

د غیر الله عبادت شرک دی[۱۳]

څوک چې له الله پرته د بل څه عبادت کوي هغه مشرک دی.

لکـــــــه:

- څوک چې له الله پرته بل څوک راوبلي.
- او څوک چې له الله پرته بل چاته حلاله وکړي.

الله تعالی فرمایلي:

﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا﴾

(د الله عبادت وکړئ او هیڅ شی ورسره مه شریکوئ).

[النساء سورت: ۳٦ آیت]

شرک: په دنیا او اخرت کې د بدبختۍ لامل ګرځي.

۱۲- د لوست موخې:

- چې زده کوونکی له شرک څخه ډډه وکړي.
- د شرک ځیني ډولونه وپیژني.
- د هغه چا حکم وو ایې چې له الله پرته بل چاته یو ډول عبادت وکړي.
- پر دې دلیل وو ایې چې له الله پرته د بل چا عبادت شرک دی.

۱۳- ښوونکې ته!

- د دې خبرې وضاحت چې چا یو ډول عبادت له الله پرته بل چاته وکړلکه: دعاء، حلاله، سجده او داسې نور؛ نو هغه مشرک کافر دی، که څه هم لمونځ وکړي، روژه ونیسي، حج او عمره وکړي او دعوه کوي چې دی مسلمان دی.
- د دې خبرې وضاحت چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې مشرکانو ځینې عبادتونه کول خو له شرک سره یې هغوی ته هیڅ کتله ونه رسوله.
- د دې خبرې وضاحت چې د شرک سزا په جهنم کې تلپاتې والی دی، الله تعالی فرمایلي: ﴿إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ﴾[المائدة: ۷۲].
(پشکه خبره دا ده چې څوک له الله سره شریک نیسي، نو یقیناً په هغه باندې الله جنت حرام کړی دی او د هغه استوګنه اوردی او د ظالمانو لپاره هیڅوک مدد کوونکی نشته).
- د انسان سره د شیطان دښمني او پردې پې ټینګار چې په شرک او کمراهی کې یې اخته کړي، تر څو ورسره په دوزخ کې یو خای شي.

پوښتنې:

۱ څوک چې له الله پرته د بل چا عبادت وکړي هغه مشرک دی.

أ- پر (دې خبره) دليل ووايه.

.....

.....

.....

ب- د دې مثال ووايه.

.....

.....

۲ لاندې تش ځايونه ډک کړئ:

۱- د مشرک سزا دا ده چې د تل لپاره به په ..... وي

۲- څوک چې له الله پرته د بل څه عبادت وکړي لکه دعا او ..... نو هغه مشرک دی.

۴ شيطان ولې غواړي چې خلک په شرک اخته کړي؟

.....

.....

.....



شپږم لوست[۱۴] دویم اصل: بنده لره خپل دین پېژندل[۱۵]

۱ بنده لره د خپل رب پېژندل.

۲ بنده لره د خپل دین پېژندل.

۳ بنده لره خپل نبي ﷺ پېژندل.

دین درې مرتبې لري:

۱ لومړی مرتبه: اسلام

۲ دویمه مرتبه: ایمان

۳ دریمه مرتبه: احسان

۱۴- د لوست موخې:

- چې زده کوونکی د دین مرتبې وپېژني.
- د اسلام معنا وپېژني.
- د اسلام پر دین ووپاړي.

۱۵- ښوونکې ته!

- د اسلام سره مینه کول او پرې ویاړلو ته د زده کوونکو په زړونو کې ځای ورکول.
- د دې خبرې وضاحت چې اسلام خوشالي، سکون او آرامی راولي او دا شرک او کمراهي د زړونو د تنګوالي لوی لامل دی. الله تعالی فرمایلي:﴿فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَىٰ ﴿١٢٣﴾ وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا﴾ [طه: ۱۲۳-۱۲۴]. (نو چا چې زما د هدایت پیروي وکړه، نو دی به نه کمراه کېږي او نه به بدبخته کېږي (۱۲۳) او هغه څوک چې زما له ذکر (قرآن) نه مخ وګرځوي، نو بېشکه د ده لپاره ډېر تنګ ګذران (اوژوند) دی او دی به مونږ د قیامت په ورځ راوپورته کوو).
- د خپلو هغو کسانو کیسې کول چې اسلام یې قبول کړی او د اسلام په غېږ کې یې راحت او ډاډ ترلاسه کړی.

لومړی مرتبه: اسلام.

اسلام: الله تعالی په يووالي سره منل، د اطاعت له لارې هغه ته غاړه ايښودل او له شرک او مشرکانو څخه بې زاري ده.

زه يو مسلمان يم، له خپل دين اسلام سره مينه لرم او پرې ويار‌م.



پوښتنې:

۱ د دین هره مرتبه د یې مناسبې مرتبې سره ونښلوه.

احسان	دویمه مرتبه
ایمـــان	لومړۍ مرتبه
اســـلام	دریمه مرتبه

۲ لاندې تعریف بشپړ کړئ:

اسلام: الله تعالی په .....سره منل، د .....له لارې هغه ته غاړه ایښودل او له شرک او مشرکانو څخه بې زاري ده.



اسلام پنځه بناکاني لري:

لومړی بنا:

پدې خبره ګواهي ورکول چې له الله پرته بل حق معبود نشته او پدې چې محمد د الله رسول دی.



۱۶- د لوست موخې:

- چې زده کوونکی د اسلام بناوې وښيي.
- د دې پنځو بناوود ادا کولو حکم وښيي.
- د لمانځه اهميت او ورته پاملرنه تشريح کړي.


۱۷- ښوونکې ته!

- د يوې کوتې د ديوالونو د مثال په ور اندې کولو سره د رکن معنا بيانول او دا چې اسلام له دې پنځو ارکانو پرته ولاړ او ثابت نه پاتې کيږي.
- دا خبره منل چې دا ارکان د الله جل جلاله له خوا فرض دي لکه څنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې: «بُنِيَ الإسلامُ على خَمْسٍ...) يعني اسلام په پنځو څيزونو ولاړ دی، دا حديث مسلم په ۱۶ شمېره رو ايت کړی دی.
- په خپل وخت لمانځه ادا کولو ته هڅول او دا چې د قيامت په ورځ به يې په اړه له بنده سره لومړی حساب کيږي، لکه څنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: « إنَّ أوَّلَ ما يُحاسَبُ به العَبْدُ يومَ القِيامَةِ مِن عَمَلِه صَلاتُه، فإن صَلَحَت فقد أفْلَحَ و أنجَحَ، وإن فسدت خابَ وخَسِر» ترمذي په (413) شمېره رو ايت کړی دی. يعني هغه څه چې د بنده د عملونو څخه يې د قيامت په ورځ له هغه سره حسابي کيږي؛ هغه لمونځ دی، نو که لمونځ يې سم و، يقينا چې کامياب دی او که ناسم و ناهيلی او تاو اني دی.» ترمذي په (۴۱۳) شمېره رو ايت کړی دی.
- د لمانځه د پرېښودلو په اړه خبرداری، او دا چې پرېښودونکی يې کافر دی، لکه څنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي :«العَهْدُ الذي بيننا وبينَهُم الصَّلاة فَمَن تَرَكَها فقد كفر» يعني زمور او د دوی ترمنځ تړون لمونځ دی، نو چا چې لمونځ پرېښود هغه کافر دی. ترمذي په (۲۶۲۱) شمېره رو ايت کړی دی.

اسلام پنځه بناګانې لري:

دويم رکن:

د لمانځه ادا کول



دريم رکـــن:

زکات ورکول



څلورم رکن:

د رمضان (دمياشتې) روژه نيول.



پنځم رکن:

د بيت الله الحرام حج د هغه چا لپاره چې توان يې ولري.



د اسلام پنځه ارکان يو له بل سره تړلي دي، نو انسان يې بايد پوره کړي تر څو جنت وګټي.



پوښتنې:

۱ د اسلام ارکان کوم دي؟

.....

.....

.....

۲ د اسلام د ارکانو لاندې کرښه کش کړئ:

- د رمضان روژه
- له مور او پلار سره نیکي
- د قرآن کریم تلاوت
- د بیت الله حج د هغه چا لپاره چې وس یې ولري
- لمونځ کول
- زکات ورکول
- پر دې ګواهي ورکول چې له الله پرته بل برحق معبود نشته او پر دې چې محمد ﷺ د الله رسول دی

۴ لاندې تش ځایونه ډک کړه:

لومړی عمل چې د قیامت په ورځ یې له بنده سره حساب کیږي هغه .....



نهم لوست[۱۸]

د شهادتينو معنا[۱۹]

په : (لا إلَهَ إلّا الله)

د ګواهۍ ورکولو معنا دا ده چې له الله پرته بل په حقه معبود نشته.

په دې د ګواهۍ ورکولو معنا چې محمد د الله رسول دی.

۱

په هغه څه کې يې پيروي چې امر يې پرې کړی

۲

او په هغه څه کې پرې باور کول چې خبر يې ترې ورکړی دی.

۱۸- د لوست موخې:

- چې زده کوونکی د : لا اله الا الله معنا تشريح کړی شي.
- په محمد رسول الله د ګواهۍ ورکول تشريح کړي.
- د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره مينه ولړي او پيروي يې وکړي.
- له هغه څه نه ډډه وکړي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم تري منع فرمايلې ده.

۱۹- ښوونکې ته!

- د دوارو ګواهيو (شهادتينو) د اهميت بيان، حُکه چې په وسيله يې انسان اسلام ته داخليږي.
- دې خبرې ته اشاره چې خُپې داسې معبودان هم شته چې د الله تعالی سره يې په باطله عبادت کړي لکه خُپې خلک چې د دعا او حلالې پر مهال د پېغمبر انو او نيکانو قبرونو ته مخ کوي او همدا هغه لوی شرک دی چې الله تعالی او رسول صلی الله عليه وسلم تري منع فرمايلې ده.
- د دې خبرې وضاحت چې په (لا اله الا الله) سره کواهي ورکول يې ويونکي ته کټه نه رسوي تر دې چې په معنا يې پوه شي، په غوښتنه يې عمل وکړي او له هغه څه نه ځان وساتي چې د دې کلمې ضد دی.
- د دې خبرې وضاحت چې تر ټولو غوره ذکر (لا اله الا الله) دی او دا چې په دنيا کې د چا وروسته وينا (لا اله الا الله) وي جنت ته به داخليږي.
- د محمد صلی الله عليه وسلم په پېغمبری د ګواهۍ ورکولو معنا: په هغه څه کې د هغه اطاعت کول دي چې امر يې پرې کړی وي.
- د اسلام ارکان او فرايض پر ځای کول لکه: لمونځ او داسې نور.
- په هغه څه کې يې تصديقول چې خبر يې ترې ورکړی لکه د قيامت راتلل، جنت، دوزخ او داسې نور.
- له هغه څه نه ډډه کول چې منع يې ترې کړې او تر سره کوونکی يې په عذاب سره ګواښلی دی لکه: کبيره او صغيره ګناهونه او دا چې تر ټولو لويه کبيره ګناه شرک دی.
- دا چې عبادت يې ونه شي مګر په هغه طريقه چې هغه روا کړي وي له اطاعتونو څخه، او له بدعتونو خان وساتي لکه په نبوي مولود مراسم تر سره کول.
- د دې خبرې وضاحت چې ګواښ له منعه کولو څخه ډير اغيزمن دی.

د شهادتینو معنا

په دې د ګواهۍ ورکولو معنا چې محمد د الله رسول دی.

٣

له هغه څه نه ډډه کول چې منع يې ترې کړې او تر سره کوونکی يې رټلی.

٤

دا چې د الله عبادت ونه شي مګر په هغه طريقه چې هغه روا کړې ده.

او په دووه ګواهيو (شهادتينو) سره سړی د اسلام دين ته داخليږي.



پوښتنې:

١ لاندې تش ځایونه ډک کړئ:

أ- زه مسلمان یم ګواهي ورکوم چې له ..... او پدې چې محمد صلى الله عليه وسلم د ..... دی.

ب- د (لا اله الا الله معنا: .....

ج- تر ټولو غوره ذکر .....دی.

٢ شهادة أن محمدا رسول الله) څه معنا؟

.....

٤ داسې درې کړنې ولیکئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې مونږ ته امر کړی وي:

١- لمونځ کول.

٢ - .....

٣- .....

٤- .....



ایمان شپږ رکنونه لري:

۱- چې په الله ایمان ولري.	۲- د هغه پر ملایکو.
۳- د هغه پر کتابونو.	۴- د هغه په پیغمبرانو.
۵- د اخرت په ورځ.	۶- او په (تقدیر) خیر او شر ایمان درلودل.

په شپږو رکنونو ایمان راوړل د دنیا او آخرت خوشحالي لري.

۲۰- د لوست موخې:

زده کوونکی وکولای شي:
- پدې ارکانو د ایمان راوړلو حکم وښيي.
- د ایمان رکنونه وشمیري.
- دا تشریح کړي چې ایمان له وینا، عمل او باور څخه عبارت دی.

۲۱- ښوونکې ته!

- د ایمان د مفهوم روښانه کول او دا چې ایمان په زړه باور، په ژبه وینا او په غړو سره عمل دی.
- د جبرائیل علیه السلام د مشهور حدیث تشریح چې پکې راغلي: (نو د ایمان په اړه خبر راکړه، هغه وویل: دا چې ته په الله، د هغه پر ملائکو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو، د آخرت په ورځ او د خیر او شر په تقدیر ایمان ولري). مسلم په (۸) شمیره رو ایت کړی.
- په شپږو ارکانو ایمان راوړل د دنیا او آخرت د خوشحالۍ سبب کرځي.
- د دې خبرې وضاحت چې د ایمان له نښو څخه یوه د الله سره مینه او د هغه اطاعت کول دي.
- په پته او ښکاره الله تعالی لیدونکی ګڼل.
- د قرآن کریم حفظول، په هغه کې فکر کول او عمل پرې کول.
- د اخرت ورځې ته د نیکو اعمالو په کولو سره تیاری نیول، او په قضا او قدر راضي کیدل.
- د ځینو پیغمبرانو، ملایکو، او هغو کتابونو یادونه چې الله جل جلاله نازل کړي دي.
- زده کوونکو ته ځینې داسې جملې ورښودل چې په قضا او تقدیر د باور څرګندونه کوي، لکه: (الله حکم کړی او څه چې وغواړي هغه کوي).
- په دې شپږو ارکانو د ایمان د ضرورت په بیانولو سره او دا چې چا له دې څخه انکار وکړ هغه کافر شو.

پوښتنې:

۱ د ایمان ارکان څو دي؟

.....

.....

.....

۲ په قوسونو کې د هر رکن لپاره مناسبه شمیره ولیکئ:

په الله جل جلاله ایمان ( )	د اخرت په ورځ ایمان ( )
د خیر او شر په اندازه ایمان ( )	په ملایکو ایمان ( )
په پیغمبرانو ایمان ( )	په اسماني کتابونو ایمان ( )



پوښتنې:



۳ الله تعالی فرمایلي:


﴿شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰ﴾

(هغه ستاسو لپاره داسې دین مقرر کړی دی چې د هغه وصیت یې نوح ته هم کړی و او هغه چې مونږ تا ته وحي کړی دی او هغه چې مونږ د هغه وصیت ابراهیم او موسیٰ او عیسیٰ ته کړی و. [الشوری سورت: ۱۳ آیت].

﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ﴾

محمد د الله رسول دی . [الفتح سورت: ۲۹ آیت].

په آیت کې د ذکر شوو پیغمبرانو نومونه راوباسئ:



د اخرت په ورځ له ايمان څخه په بيا راژوندي کېدو ايمان دی.

د بعث معنا دا ده چې:

الله جل جلاله له مرګ نه وروسته خلک بيا راژوندي کوي او له قبرونو څخه يې د حساب او جزا لپاره راوباسي.

په بيا راژوندي کېدو ايمان واجب دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ﴾

(له هم دې (ځمکې) نه مونږ تاسو پيدا کړي ياست او په هم دې کې به مونږ تاسو ننه باسو، او بل کرت به مونږ تاسو راوباسو). [طه سورت: 55 آيت].

څوک چې له بيا راژوندي کېدو څخه انکار کوي هغه په الله تعالی کافر دی.

چاته چې خپله عملنامه په ښی لاس ورکړل شي هغه به د قيامت په ورځ له ګټونکو څخه‌وي، او آسانه حساب به ورسره وشي او چا ته چې د هغه عملنامه په چپ لاس ورکړل شي هغه به له تاوانيانو څخه وي او حساب به يې سخت وي.

۲۲- د لوست موخې:

- زده کوونکی د بعث معنا تشريح کړي.
- په بعث د ايمان راوړلو حکم وښيي.
- د هغه چا حکم بيان کړي چې له بعث څخه منکروي.

۲۳- ښوونکې ته!

د دې خبرې ثبوت چې په آخرت، بيا راژوندي کېدو، حساب او جزا ايمان راوړل واجب دي، او د قيامت د ورځې د خپنو سختيو يادونه او دا چې الله تعالی د خپلو بندګانو ساتنه کوي، پدې ټولو د لوستل شوو سورتونو له آيتونو څخه دليل ورانديکول لکه: ﴿فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ ۝ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا﴾ [الانشقاق: ۷-۸]. (نو هر چې هغه څوک دی چې هغه ته خپل کتاب (عمل نامه) په ښي لاس کې ورکړی شي، نو ژر ده چې له ده سره به حساب وکړی شي، دېر اسان حساب).

د زده کوونکو په زړونو کې له مرګ وروسته ژوند لپاره چمتوالی رامنځته کول.

له مرګ وروسته د قبرونو څخه د راژوندي کېدلو حقيقيت او په دې کې د الله د قدرت لوړې څرګندول.

پوښتنې:

۱ څوک له مرګ نه وروسته خلک بیا راژوندي کوي؟

.....

۲ لاندې تش ځایونه ډک کړئ:

په بعث ایمان ..... دی او د هغه چا حکم ..... دی چې انکار ترې کوي.

۳ د الله تعالی دا قول بشپړ کړئ:

﴿مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ .....﴾

۴ د الله تعالی له قدرتونو څخه دا هم ده چې هغه خلک د دوی له مرګ نه وروسته د یوې لویې چارې لپاره راژوندي کوي، چې هغه.....



دریمه مرتبه : احسان (۲۵)

احسان:

(دې ته و ایې چې) ته د الله تعالی داسې عبادت وکړې لکه ته یې چې ګورې، نو که چیرته یې ته نه ګورې؛ هغه خو تا ګوري.

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ﴾

(بېشکه الله د هغو کسانو ملګری دی چې پرهېزګاري کوي او د هغو کسانو چې هغوی نېکي کوونکي دي). النحل سورت: ۱۲۸ آیت.

زه تل الله تعالی پر ځان څارونکی وینم، نو نه په پټه او نه په ښکاره ګناه کوم.

عبادتونه د الله تعالی د رضا لپاره کوم.



۲۴- د لوست موخې:

- زده کوونکی د احسان معنا تشریح کړي.
- په احسان دلیل وراندي کړي.
- په اخلاص سره د عبادت ادا کولو ته لیوالتیا ولري.

۱۹- ښوونکې ته!

- د دې خبرې وضاحت چې احسان د دین ترټولولوړه مرتبه ده.
- دا واضحوله چې په بشپړه توګه عبادت کول له احسان څخه دي.
- پدې ټینګار چې دا حس کړي چې الله تعالی پر بندګانو نګېبان دی، الله تعالی فرمایلي: ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا﴾ (بېشکه الله پر تاسو ښه ساتونکی (نګېبان) دی) النساء سورت ۱.
- د ځینو هغو نېکانو کیسې چې د الله ځارې تل پرزړه و، لکه د عمر بن الخطاب رضي الله عنه کیسه د هغې پېلغې سره چې د الله تعالی له ویرې یې په شبدوکې له اوبو کډولو انکار وکړ.

پوښتنې:

۱ لاندې تش ځایونه ډک کړئ:

احسان: (دې ته وایې چې) ته ..... لکه ته یې چې ګورې، که چیرته یې ته .....هغه خو تا ګوري.

د دین له مرتبو څخه دویمه مرتبه ..... او هغه تر ټولو لوړه ده.

۲ په احسان دلیل وړاندې کړه.

.....

.....

۳ د پوره ایمان خاوند که څه هم څوک یې نه وینې غلا نه کوي، ولې؟

.....

.....



دريم اصل: بنده لره خپل نبي محمد ﷺ پېژندل (۲۷)

دري ګوني اصول:

۱ بنده لره د خپل رب پېژندل

۲ بنده لره د خپل دين پېژندل

۳ بنده لره د خپل پېغمبر ﷺ پېژندل

- زما نبي محمد بن عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم دی، هاشم له قريشو څخه و او قريش له عربو څخه.
- زما نبي محمد دی او هغه د پېغمبر انو وروستی پېغمبر دی.

۲۶- د لوست موخې:

- چې زده کوونکی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نسب وپېژني.
- د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه ولري او پیروي پې وکړي.
- پردې دلیل وړاندې کړي چې محمد صلی الله علیه وسلم وروستی پېغمبر دی.
- د الله تعالی لخوا پر بنده درود په پورته مخلوقاتو کې د بنده ستاینه ده.

۲۷- ښوونکې ته!

- په لنډه توګه د لومړي او دویم اصل بیا کتنه او د دریم اصل سره تړاو ورکول.
- د لوست پیل د هغو ناپوهیو او کمراهیو په بیانولو سره چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له بعثت څخه وړاندې په خلکو کې وې.
- د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نسب عظمت او قدر احترام تشریح کول.
- د دې وضاحت چې خاتم الأنبیاء ترټولو وروستي پېغمبر ته و اېي او دا چې له هغه وروسته بل نبي نه راځي.
- د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره محبت کول واجب دي پرته له دې چې له حد نه پکې تېر شي، لکه دعا تړې غوښتل او د ستونزې پر مهال پې رابلل.
- د دې خبرې وضاحت چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه پې پیروي لازموي او دا چې په وینا او عمل کې پې وړپسې اقتدا وشي.
- په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ویلو ته د زده کوونکو هڅول، او دا چې لوی اجر لري، په ځانګړې توګه کله پې چې نوم واخستل شي.

دريم اصل: بنده لره خپل نبي محمد ﷺ پېژندل (۲۷)

دليل پې د الله تعالى دا قول دى:

﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا﴾

(محمد (صلى الله عليه وسلم) ستاسو په سړيو کې د هيڅا پلار ندى او لېكن د الله رسول دى او د نبيانو (د لړۍ) ختموونكى دى او الله په هر شي ښه عالم دى. [الأحزاب سورت: 40 آيت].

د هغه صلى الله عليه وسلم سره د محبت او اطاعت حكم دا دى چې: پر هر مسلمان واجب دى.

زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره مينه لرم او د هغه پيروي كوم.



پوښتنې:

۱ لاندې تش ځایونه ډک کړئ:

أ- زما پیغمبر محمد بن..... بن عبدالمطلب بن.....

ب- د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه او د هغه پیروي کول ..... دي.

ج- وروستی پیغمبر ..... دی.

د- زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه لرم او ..... یې کوم او د هغه په وینا او ..... کې ورپسې اقتدا کوم.

۲ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

« أَكْثِرُوا الصَّلاةَ عَلَيَّ يومَ الجُمُعَةِ وليلةَ الجُمُعَةِ فَمَنْ صَلَّى عَلَيَّ صلاةً صَلَّى اللهُ عَلَيهِ عَشْراً ».

"د جمعې په ورځ او شپه کې پر ما ډېر درود وایئ، ځکه څوک چې پر ما یو ځل درود ووایي، الله تعالی به پر هغه لس ځلي درود ووایي". بیهقي په خپل سنن کې روایت کړی دی (۲۴۹/۳)

حدیث ولوله او لاندې پوښتنې ځواب کړه:

◀ په کومه ورځ باید په رسول الله صلی الله علیه وسلم زیات درود او سلام وویل شي؟

◀ د ښوونکي سره د داسې کیسو په ویلو کې همکاري وکړئ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د صحابه کرامو رضي الله عنهم د مینې څرګندونه کوي.

عنوان:

درسي نصاب، فقه، سويه (دويمه)

لنډه کتنه:

دا علمي مضمون په سعودي عربستان کې د زده کوونکو لپاره د تعليمي نصاب اصلاح شوی لنډيز او غورچاڼ دی چې په بېلابېلو سويو ويشل کيږي، په دې کې يو مضمون فقهې ته ځانګړی شوی چې دولس (۱۲)سويې لري. هغه اړين موضوعات او مسائل چې په لومړۍ سويه کې راوړل شوي دي په لاندې ډول دي:

- د حاجت د رفع کولو د آدابو په اړه خبرې کول، د استنجا او استجمار معنی تشريح کول، او هغو حالاتو ته اشاره کول چې د اوبو نه بغير په بل شي باندې اودس وچولی شي، او په کومو حالاتو کې چې د اوبو نه بغير په بل څه شي اودس نه شي وچولی.
- د اوداسه طريقه او هغه څه چې اودس باطلوي.
- په شپه او ورځ کې د فرضو لمونځونو او د هر لمانځه د رکعتونو شمېر.

لومړی لوست (۲)

استنجا او استجمار (په کاڼو او لوټو اودس وچول)

- تشې او ډکې متيازې ناپاکه دي او بدن ناپاکه کوي، نو د حاجت له رفع کولو وروسته ترې بايد ځان پاک کړل شي.

د استنجا معنا:

د تشو او ډکو ميتازو لارې په پاکو اوبو سره وينځل چې نجاست لیرې شي.

استجمار (اودس وچول):

په کاڼو او يا کاغذي دستمالونو سره د تشو او ډکو متيازو د ځای پاکول ترڅو ناپاکي لرې شي.



ښوونکې ته:

- د حاجت د رفع کولو پسې سملاسي د تشو او ډکو متيازو د ځايونو پر پاکولو ټينګار.
- هغو حالاتو ته پاملرنه چې يوازې اودس وچول پکې بسنه کوي.
- دې ته پاملرنه چې په اودس وچولو او استنجا دواړو کې بايد کېن لاس وکارول شي. او ورپسې دواړه لاسونه سره ووينځل شي.
- د هغو شيانو لپاره د مثالونو راوړل چې اودس وچول پرې روا نه دي.

د لوست موخې:

- زده کوونکی هغه څه وښيي چې د حاجت له رفع کولو نه وروسته يې کول واجب دي.
- استنجا او استجمار (اودس وچول) تعريف کړي.
- درې داسې ځيزونه وښيي چې اودس وچول پرې جايز دي.



پوښتنې:

س۱: د حاجت له رفع کولو نه وروسته پر تا څه کول واجب دي.

.....

.....

س۲: لاندې جملې بشپړې کړئ:

أ- استنجاء دې ته وايي چې: .....

ب- استجمار: دېته وايي چې : .....

س۳: سم ځواب غوره کړه:

أ- اودس وچول (استجمار) جايز دی په:

- کانې
- اوبو
- دستمالونو.

ب- له ناپاکو شیانو څخه:

- متیازې
- خولې
- لیاړې

ج- له جامو څخه نجاست لرې کوم په:

- کانو
- اوبو
- خاورو

پوښتنې:

س۴: تش ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

د تشو او ډکو متیازو د راوتلو له ځای څخه نجاست لرې کوم په:

اوبو او.....او.....

س۵: لاندې جملې وليکئ:

- د حاجت له رفع کولو وروسته د تشو او ډکو متیازو ځای پاکوم او بیا په اودس پیل کوم.
- .....
- .....

- د حاجت له رفع کولو وروسته لاسونه ښه وینځم.
- .....
- .....

د حاجت د رفع کولو پر مهال خبرې نه کوم.
- .....
- .....



دا دوه دعاګانې تل و ایه:

۱ - تشناب د ننوتلو پر مهال و ایم:

«بسم الله، اللهم إني أعوذ بك من الخبث والخبائث) (٤).

"د الله په نوم، ای الله، زه پر تا له نارینه او ښځینه وو شیطانانو څخه پناه نیسم ".

۲ - له تشناب څخه د راوتلو پر مهال و ایم: (غُفْرانَك) (٥).

یعنې: ای الله! بخښنه وکړې.



٤- رواه البخاري برقم (١٤٢)، ولزيادَة (بسم الله) انظر: فتح الباري (٢٤٤/١).

٥- رواه التِّرمذي برقم (٧).

دويم لوست (۶) د اودس طريقه (۷)

په زړه کې د اودس نيت کوم او بيا لاندې کارونه کوم:

۱ -
(بسم الله) و ايم.

۲ -
دواړه لاسونه(ورغوي) مې درې ځلې وينځم.



۳ -
درې ځلې خولې او پوزې ته اوبه اچوم او بيرته پوزه سوې کوم.



۴ -
مخ مې درې ځلې وينځم.



ښوونکې ته:

- دا بيانول چې الله جل جلاله پاکيزه خلک خوښوي.
- د زده کوونکو پام را اړول چې د اوبو په لګښت کې اسراف ونه کړي؛ ځکه اوبه يو نعمت دی او بايد ساتنه يې وشي.
- دا تشريح کول چې هر غړی درې ځلې وينځل سنت دي، او سر له غوږونو سره يو ځل مسح کيږي.
- د مضمضې، استنشاق او استنثار تشريح کول.

المضمضه: په خولې کې اوبه اړول راړول. الاستنشاق: د تنفس له لارې پوزې ته اوبه پورته کش کول، تر څو د پوزې دننه هر څه راووځي. الاستنثار: پوزې ته له اوبو کش کولو وروسته بيرته پوزه سوې کول.

- په ټولو زده کوونکو عملي اودس اجرا کول، تر څو ډاډ تر لاسه شي چې سم يې زده کړی دی.

پدې ټولو کې ښوونکي ته د لوی اجر او ثواب زيری دی، ځکه چې زده کوونکو ته د اودس او لمانځه طريقه ورزده کوي، نو چا چې يو څه زده کړل هغه ته پرې د عمل کوونکي په څېر اجر ورکول کيږي.

د لوست موخې:

- زده کوونکی د نيت ځای وښودلی شي.
- زده کوونکی د اودس طريقه په عملي توګه اجرا کړی شي.
- زده کوونکی د لاسونو او څنګلو تر منځ توپير وکړی شي.

دويم لوست د اودس طريقه

۵ - د ګوتو له څوکو څخه تر څنګلو پورې مې لاسونه درې ځلې وينځم.



۶ - ټول سر مې له دواړو غوږونو سره يو ځل مسح کوم.



۷ - ښۍ پښه مې تر ښنګرو پورې درې ځلې وينځم، وروسې چپه هم همداسې.



آيا ماته روا دي چې د لاسونو څخه مخکې پښې ووينځم؟

روا نه دي؛ ځکه بايد هغه ترتيب مراعت شي چې د اودس په طريقه کې مې ښودلی دی.

کله چې مخ او لاسونه ووينځم، بيا لاړشم او تلفون ته ځواب ورکړم او ځنډ وکړم، بيا راشم خپل سر له غوږونو سره مسح کړم، نو آيا زما اودس سم دی؟

دا اودس جايز نه دی؛ ځکه د غړو په وينځلو کې بايد پرله پسې والی مراعت شي.

پوښتنې:

س۱: د نیت ځای کوم دی؟

.....

س۲: لاندې جملې بشپړې کړئ:

- خپل لاسونه وینځم بیا خولې ته اوبه اچوم او.....او .....
- خپله ښې پښه مې تر .....پورې وینځم بیا.....

س۳: د (أ) کالم مناسبه کلمه د (ب) کالم له مناسبې کلمې سره ونښلوئ:

وینځم	خپل سر
وینځم	خپل مخ
مسح کوم	خپلې دواړه پښې



پوښتنې:

س۴: هغه کاروښيه چې په اودس کې يې ترتولو وروسته کوې:

دواړه لاسونه وينځل	دواړه پښې وينځل
سر مسح کول	مخ وينځل.

س۵: د شمېرو په ورکولو سره د اوداسه غړي ترتيب کړئ:

۱ داوړه پښې	۲ دواړه لاسونه
۳ سر	۴ مخ
۵ دواړه ورغوي	





پوښتنې:

س٦: د (√) علامه له سم او (×) علامه له غلط ځواب سره وکاروئ:

د ښي لاس نه مخکې مې ښی پښه وینځم.

له پښې وینځلو نه وروسته مې سر مسح کوم.

مخ وینځم بیا مې لاسونه وینځم

س٧: لاندې جملې ولیکئ:

په اودس کې هیڅ غړی وچ نه پریږدم .

- .....
- .....

په اودس کې له ځنډ پرته ټول غړي یو له بل پسې وینځم.

- .....
- .....

په اودس کې غړي په ترتیب سره وینځم.

- .....
- .....

دريم لوست[۸] د اودس ماتوونکي[۹]

اودس په څينو څيزونو ماتيږي لکه:

۱ - له مخکې يا شاته لارې څخه د (متيازو، باد، او ډکو متيازو) راوتل.

۲ - خوب.

۳ - د اوښ غوښه خوړل.

که له دې شيانو څخه مو په يو سره اودس فاسد شي، بايد بيرته اودس وکړئ.



ښوونکې ته:

- د اودس ماتوونکو د معنا تشريح کول.
- د هغه چا د حکم بيانول چې د اوښ غوښه پې خوړلې وي او د لمانځه نه وروسته پوه شي، نو آيا لمونځ به راګرځوي؟

د لوست موخې:

- چې زده کوونکی اودس ماتوونکي وښيي.
- زده کوونکی تشريح کړی شي چې د اودس له ماتېدو وروسته بايد څه وکړي.

پوښتنې:

س۱: د اودس ماتوونکو لاندې خط کش کړئ:

خندا	خوب	خبرې
هغه څه چې له دوو لاروو ځې	د اوښ غوښه خوړل	

س۲: اودس مې وکړ، بیا مې د پسه غوښه وخوړله؟ نو آیا اودس مې مات شوی دی؟ اوولې؟

.....

.....

.....





پوښتنې:

س۳: لمانځه ته پاڅېدې او اودس دې مات شو، نو پرتا څه کول لازم دي؟

د نښه کولو په واسطه مناسب ځواب غوره کړئ.

لمونځ او اودس دواړه راګرځوې	اودس راګرځوې.

س۴: غوښه دې وخوړه خو نه پوهېدې چې د اوښ غوښه ده، خو کله دې چې لمونځ وکړ بيا پوه شوې.

څه به کوې؟ ځواب وليکه:

.....

.....

س۵: لاندې جمله وليکه:

- بيا اودس کوم، کله چې داسې يو څه پيښ شي چې باطل يې کړي.
- .....
- .....




د استفتاح دعاء[۱۱]

په لمانځه کې له مشروعه دعاګانو څخه یوه د پرانیستې (استفتاح) دعا لوستل دي چې دا ده:

(سُبْحانَك اللَّهمَّ وبحمدِك، وتَبارَك اسمُك، وتعالى جَدُّك ولا إلهَ غَيْرُك).

(اې الله! پاکي اوستاینې یوازې تالره دي اونوم دي مبارک دی، شان دې لوړ دی او له تا پرته بل معبود نشته).



دا دعا له تحریمه تکبیر نه وروسته ویل کیږي.

ښوونکې ته:

- د استفتاح د دعا ځای ښودل، او دا چې په لمانځه کې یوازې د لومړي رکعت په سر کې ویل کیږی.

- د استفتاح د دعا معناګانې تشریح کول : (سُبحانَك اللَّهمَّ وبحمدِك): ای الله د هر هغه څه څخه ستا پاکي بیانوم چې ستا له شان سره نه ښایي؛ له نېمګړتیاوو او عیبونو څخه. (وبحمدِك): یعنې ستا پاکي بیانوم. (تَبارَك اسمك): یعنې برکتونه دې زیات دي. (وتعالى جَدّك): یعنې لوړ او لوی دی شان ستا. (ولا إله غيرُك): ستا پرته هیڅ معبود وړتیا نه لري چې عبادت پې وشي.

د لوست موخې:

- زده کوونکی وکولای شي د استفتاح دعا ووایي.
- د استفتاح د دعا ځای وټاکي.



پوښتنې:

س۱: تش ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

غيرك | اسمك | جَدّك | وبحمدِك

سُبحانَك اللَّهمَّ ..... وتَبارَك ..... ،
وتعالى ..... ،ولا إله .....

س۲: د استفتاح د دعا ځای وښیئ.

.....
.....

س۳: سم ځواب غوره کړه:

د استفتاح دعا و ایم: له فاتحې وروسته ◯ له تحریمه تکبیره څخه ورسته. ◯

س۴: مناسبه کلمه غوره کړئ او په مناسب ځای کې یې وکاروئ:

دریمه | څلورمه | لومړی

تحریمه تکبیر په لمانځه کې .....تکبیر دی.



پوښتنې:

س٥: د استفتاح دعا وښيه.

.....

.....

س٦: د (√) علامه له سم او (×) علامه له غلط ځواب سره وکاروئ:

- په هر رکعت کې د استفتاح دعا وايم. ( )
- د استفتاح دعا په لومړي رکعت کې ويل کيږي. ( )

س٧: لاندې جمله وليکئ:

- د استفتاح دعا له تحريمه تکبير نه وروسته وايم.
- .....
- .....



فرضي لمونځونه[۱۳]

له شهادتينو نه وروسته لمونځ د اسلام له ارکانو څخه دويم رکن دی.

لمانځه ته پاملرنه جنت ته د داخليدو سبب دی.

او پرېښودل يې دوزخ ته د ننوتلو يو سبب دی.



ښوونکې ته:

- د لمانځه موضوع ته د اسلام له پنځو ارکانو سره ترِاو ورکول.

- په شاګردانو تينګار کول چې پنځه وخته لمونځونه په خپل وخت ادا کړي، ځکه چې لمونځ د اسلام ستن ده او چا چې پرېښوده هغه کافر شو، لکه څنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:« العَهْدُ الذي بَيْنَنا وبَيْنَهم الصَّلاةِ، فَمَن تَرَكَها فَقَد كَفَر » "زمور او د دوی تر منځ ترون لمونځ دی، نو چا چې پرېښوده هغه کافر شو". ترمذی په (۲۱۶۲) شمیره روایت کړی.

د لوست موخې:

- چې زده کوونکی په اسلام کې د لمانځه مرتبه بيان کړي.
- په شپه او ورځ کې فرض لمونځونه وښيي.
- د هر فرض لمانځه رکعتونه وښيي.

فرضي لمونځونه

په شپه او ورځ کې پنځه لمونځونه فرض دي او هغه دا دی:

۱ سهار (دوه رکعته)

۲ ماسپښین (څلور رکعته)

۳ مازدیګر (څلور رکعته)

۴ ماښام (درې رکعته)

۵ ماخوستن (څلور رکعته)



پوښتنې:

س۱: نېمګړې برخه بشپړه کړئ:

اسلام پنځه رکنونه لري چې دا دي:

۱ - شهادتين.
۲ - .....
۳ - زکات ورکول.
۴ - د رمضان د مياشتې روژه نيول.
۵ - حج.

په لمانځه پابندي.....ته د داخليدو سبب دی، او پرېښودل يې .....ته د داخليدو له اسبابو څخه يو دی.

س۲: په شپه اوورځ کې فرض لمونځونه وښيئ.

.....
.....



پوښتنې:

س۳: د (أ) کالم مناسبه کلمه د (ب) کالم له مناسبې کلمې سره ونښلوئ:

(أ)	(ب)
د ماسپښین لمونځ	دوه رکعته
د سهار لمونځ	دري رکعته
د مانښام لمونځ	یو رکعت
	څلور رکعته

س۴: لاندې کلمې ترتیب کړئ چې یوه ګټوره جمله ترې جوړه شي:

پاملرنه کوي	زید	په خپل وخت	لمانځه ادا کولو ته

.....

لمونځ	د اسلام	دویم رکن	له ارکانو څخه	دویم رکن

.....

س۵: له هغو لمونځونو څخه کربنه تاوه کړئ چې د رکعتونو شمېر یې څلوروي:

سهار ◄ ماسپښین ◄ مازدیګر ◄ مانښام ◄ ماخوست

تشهد (۱۵)

(التحيات لله والصلوات والطيبات، السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته، السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين، أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله)،

(ټول تعريفونه ، عبادتونه او ټولې پاکيزه خبرې الله لره دي، سلام دې وي پر تا باندې اى نبي او پر تا باندې دې د الله رحمت او برکتونه وي، او سلامتيا دې وي پر مونږ او د الله پر نيکو او صالحو بندګانو، زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل څوک د عبادت ور نشته او شاهدي ورکوم چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دى).



ښوونکې ته:

- د تشهد معنى په داسې ډول تشريح کول چې زده کوونکو ته اسانه وي: (التَّحيّات لله): هغه کلمات چې پر سولې، حاکميت، بقا او د الله سبحانه وتعالى پر عظمت دلالت کوي. (والصَّلَوات): يعنې فرضي او نفلي لمونځونه ټول الله تعالى لره دي. (والطَّيّبات): نيک عملونه د الله لپاره دي، ځکه چې الله پاک دى او يوازې پاک څېزونه قبلوي.
- د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په مينه ټينګار، او د الله تعالى د نيکو بندګانو قدر او ورسره مينه کول.

د لوست موخې:

- چې زده کوونکى تشهد له يادو زده کړي.
- په لمانځه کې د تشهد ځاى په نښه کړي.

تشهد



د تشهد ځای:

په
درې رکعتي او څلور رکعتي لمونځونو کې له دويم رکعت څخه وروسته ويل کيږي او: (لومړی تشهد) ورته ويل کيږي.

په
هر لمانځه کې له وروستي رکعت څخه وروسته ويل کيږي او (وروستی تشهد) ورته وايي.





پوښتنې:

س١: تشهد وو ايه.

.....
.....
.....
.....
.....
.....
.....

س٢: لاندې تش ځايونه ډک کړئ:

- تشهد په درې رکعتي او څلور رکعتي لمونځونو کې له دويم رکعت څخه وروسته ويل کيږي او: (.....) ورته ويل کيږي.
- په هر لمانځه کې د وروستۍ رکعت څخه وروسته ويل کيږي او .....ورته ويل کيږي.

س٣: په تشهد کې د اسلام له ارکانو څخه يو رکن دی؛ هغه ترې راوباسه.

.....



پوښتنې:

س۴: سم ځواب غوره کړه:

أ- لومړی تشهد وروسته له:

- لومړي رکعت
- دويم رکعت څخه وي

ب- وروستی تشهد ویل کیږي:

- په پیغمبر محمد ﷺ له درود ویلو څخه وروسته.
- په پیغمبر محمد ﷺ له درود څخه مخکې.

س۵: هغه لمونځونه چې دوه تشهدونه پکې ویل کیږي په یو ګروپ کې او هغه چې یوازې یو تشهد پکې ویل کیږي په بل ګروپ کې راغونډ کړئ.

(د ماخوستن لمونځ - د مازدیګر لمونځ - د ماښام لمونځ - د سهار لمونځ - د ماسپښین لمونځ)

۱-	۱- .....
۲-	۲- .....
۳-	۳- .....
۴-	۴- .....

اووم لوست[١٦] پر پيغمبر محمد ﷺ درود ويل[١٧]

«اللهم صلِّ على محمدٍ وعلى آل محمد، كما صليت على إبراهيمَ وعلى آل إبراهيم، إنك حميدٌ مجيد، وبارك على محمد وعلى آل محمد، كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم، إنك حميدٌ مجيد»

يا الله! پر محمد ﷺ او د هغه پر کورنۍ رحمت واوروه، لکه پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پرکورنۍ دې چې ورولی و، بېشکه ته ستايل شوی او لوی يې. يا الله ! پر محمد ﷺ او د هغه پر کورنۍ برکتونه و اوروه، لکه پر ابراهيم - عليه السلام - او د هغه پرکورنۍ دې چې ورولي وو، بېشکه ته ستايل شوی او لوی يې.



ښوونکې ته:

- په رسول الله ﷺ زيات درود ويلو ته د زده کوونکو هڅول، په ځانګړې توګه کله يې چې نوم اخيستل کيږي.
- د دې وضاحت چې د الله تعالى له طرفه درود: په پورتنيو مخلوقاتو کې د بنده ستاينه ده.
- د دې وضاحت چې برکت: د ټولو ښېګڼو دوام او کثرت دی، او د الله پاک له لورينو څخه بل هيڅ شی لور او پايښت لرونکی نه دی.

د لوست موخې:

- زده کوونکی په رسول الله ﷺ درود ووايي.
- زده کوونکی په لمانځه کې په رسول الله ﷺ د درود ويلو ځای په نښه کړي.



پوښتنې:

س۱: په رسول الله ﷺ د درود ویلو الفاظ وو ایه.

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

س۲: لاندې تش ځایونه له متن څخه ډک کړئ.

أ- د الله تعالی له نومونو څخه .....دی.

ب- د پیغمبرانو له نومونو څخه .....

س۳: له صحیح ځواب څخه کړی تاوه کړئ:

په رسول الله ﷺ درود ویل کیږي په:

◀ رکوع ◀ سجده ◀ له وروستي تشهد څخه وروسته

اتم لوست[١٨]

هغه شيان چې د تشهد په ناسته کې په رسول الله[١٩] ﷺ له درود ويلو وروسته ترې پناه غوښتل کيږي

مسلمان د تشهد په ناسته کې په رسول الله ﷺ له درود ويلو وروسته له څلورو شيانو پناه غواړي او وايي:

١- اللَّهمَّ إني أعوذ بِك مِن عَذابِ جَهَنَّم.
ای الله! زه په تا له جهنم څخه پناه غواړم.

٢- ومِن عَذابِ القَبْرِ.
او د قبر له عذاب څخه.

٣- ومِن فِتْنَةِ المحيا والممات.
او د ژوند او مرګ له فتنې څخه.

٤- ومِن فِتْنَةِ المسِيحِ الدَّجّالِ.
او د مسيح دجال له فتنې څخه.

شوونکې ته:

په زده کوونکو ټينګار چې له دې شيانو څخه هر وخت کې پناه وغواړي، په ځانګړې توګه په لمانځه کې؛ ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ترې په پناه غوښتلو امر کړی دی. - په لوست کې د ذکر شوې استعاذې د لغتونو تشريح: (أعوذ): پناه غواړم .(فِتْنَة المحيا): د ژوند له فتنې څخه؛ دا هغه څه دي چې يو سړی د خپل ژوند په اوږدو کې ورسره مخ کيږي لکه په دنيا او شهوتونو يې دوکه کېدل. (فِتْنَة الممات) د مرګ له فتنې څخه. ويل کېږي دا هغه فتنه ده چې انسان ورسره په ځنکدن کې مخ کيږي، او يا ترې مراد د قبر ازموينه او عذاب دی، چې له هغې څخه د دوو ملايکو پوښتنې هم دي. (فِتْنَة المسِيح الدَّجّال): د مسيح دجال له فتنې څخه. مسيح دجال؛ هغه دروغجن او کافر سړی دی چې په وروستۍ زمانه کې به راوځي او د ربوبيت (خدايۍ) دعوه به کوي، د هغه په لاس به الله تعالى ډيرې معجزې تر سره کړي، لکه په هغه چا باران اورول چې ريښتينې يې ګڼي او پر هغه چا قحطي راوستل چې دروغجن يې ګڼي، نو ډيرى خلک به ترې دوکه شي او پيروي به يې وکړي. دى به له مکې او مدينې پرته په ټولو ښارونو کې وګرځيږي، بيا به يې عيسى عليه السلام ووژني. د هغه له فتنې څخه د خلاصون له لارو څخه: پياورى ايمان، په الله تعالى يې له فتنې څخه پناه غوښتل او د الکهف سورت لومړني لس آيتونه حفظول دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: " مَن حَفِظَ عَشر آياتٍ مِن أوَّلِ سُورَةِ الكَهْفِ عُصِمَ مِن الدَّجّال "چا چې د کهف سورت لس لومړني آيتونه له يادو زده کړل د دجال له فتنې څخه وژغول شو ". دا حديث مسلم په ٨٠٩ شميره روايت کړی دی.

د لوست موخې:

- زده کوونکی هغه څه وښيي چې مسلمان ترې په خپل لمانځه کې پناه غواړي.
- زده کوونکی په لمانځه کې له دې څلورو شيانو څخه د پناه غوښتلو ځای په ګوته کړي.



پوښتنې:

س۱: هغه څلورځيزونه وښيه چې د تشهد په ناسته کې پر پيغمبر ﷺ له درود ويلو وروسته ترې پناه غوښتل کيږي.

.....

.....

.....

.....


س۲: لاندې (جملې) بشپړې کړئ:

د مسيح دجال له فتنې څخه د خلاصون له لارو څخه:

په الله تعالى پناه نيول د	د ..... لس لومړي آيتونه حفظول.



نهم لوست [٢٠] د لمانځه طريقه [٢١]



١ -

قبلې ته مخ کوم او په داسې حال کې تحريمه تکبير وايم چې د سجدې ځای ته ګورم، بيا د استفتاح (سبحانک اللهم ...) دعا وايم.

٢ -

﴿ أعوذ بالله مِن الشَّيطانِ الرَّجِيم، بسم الله الرَّحمن الرَّحيم﴾

وايم، يعنې: په الله له رټلی شوي شيطان څخه پناه نيسم، او د هغه الله په نوم پيل کوم چې بښونکی او مهربان دی. بيا فاتحه لولم، او ورپسې له قرآن کريم څخه يو څه لولم چې حفظ کړي مې دي.

بښوونکې ته:

- بښوونکی د زده کوونکو په وړاندې په عملي بڼه لمونځ کوي.
- هر زده کوونکي ته دنده ورسپارل چې د نورو ملګرو په وړاندې عملي لمونځ وکړي او غلطياني يې اصلاح کړي.
- که چېرته زده کوونکی په لمانځه کې غلطي کوي، لمونځ بيا تکراروي.
- د زده کوونکو پام راګرځول چې لږ تر لږه (سُبْحانَ رَبِي العَظِيم)، او(سُبْحان رَبِي الأعلى) يو يو ځل ويل کيږي.
- د رسول الله صلى الله عليه وسلم د لمونځ کولو طريقه بيانول، لکه څنګه چې عامر بن سعد رضي الله عنه د خپل پلار څخه روايت کوي وايي چې:" كنتُ أرَى رَسولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يُسَلِّم عن يمينِه وعن يَسارِه حتى أرى بَياضَ خَدِّه " يعنې: ما به رسول الله صلى الله عليه وسلم ليده چې ښي او چپ لور ته به يې سلام کړځاوه، تر دې چې ما به يې د مخ سپينوالی ليده" مسلم په (٥٨٢) شمېره روايت کړی دی.
- د دې خبرې وضاحت چې بښځه په لمانځه کې خپل ټول بدن پټوي پرته له مخ او لاسونو څخه کله چې نامحرم سړي نه وي.

د لوست موخې:

- چې زده کوونکی د لمانځه طريقه تشريح کړي.
- چې زده کوونکي په سمه طريقه عملي لمونځ وکړي.

د لمانځه طريقه


۳ -

لاسونه پورته کوم او : (اللهُ أَكْبَر) وايم، يعني الله لوی دی. بيا رکوع کوم او (په رکوع کې) درې ځلې: (سُبْحانَ ربي العَظِيم) وايم، يعني: زما هغه رب لره پاکي ده چې لوی دی.



۴ -

رکوع څخه پورته کيږم او : (سَمِعَ اللهُ لِمَن حَمِدَه، رَبَّنا ولك الحمْد حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُباركاً فيه) وايم، يعني الله د هغه چا وينا واوريده چې هغه يې ستاينه وکړه، ای زمونږ ربه! تالره ستاينه ده، زياته، پاکيزه او برکت کړی شوې ستاينه).



د لمانځه طريقه


۵ -

تکبیر وایم او په اوو اندامونو سجده کوم او په سجده کې وایم: (سُبْحانَ ربي الأَعْلى) درې ځلې. پاک دی رب زما چې پورته دی.



۶ -

له سجدې څخه راپورته کیږم او :(اللهُ أَكْبَر) وایم، او د دوو سجدو تر منځ (رَبِّ اغْفِرْ لي) . وایم، یعنې ای ربه! ماته ببښنه وکړې.



۷ -

دویمه سجده کوم او (الله أكبر) وایم او په سجده کې (سبحان ربی الأعلى) درې ځلې وایم.



د لمانځه طريقه


۸ -

دويم رکعت ته پاڅيږم او (الله اکبر) وايم، او په دې رکعت کې هم هغه څه کوم چې په لومړي رکعت کې مې کړي وو.



۹ -

له دويم رکعت نه وروسته د لومړي تشهد لپاره کينم.



۱۰ -

په پاتې لمانځه کې هغه څه کوم چې په مخکنيو دوو رکعتونو کې مې کړي دي.

د لمانځه طريقه

۱۱-

د لمانځه په پای کې د وروستي تشهد، په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود او دعا لپاره کینم او بیا په (السَّلامُ علیکُم ورَحْمَة اللهِ) ویلو سره دواړو خواوو ته سلام کړځوم.





پوښتنې:

س۱: د لمانځه طريقه بيان کړه.

.....

.....

.....

.....

.....

.....

س۲: لاندې هره کلمه په يو مناسب ځای کې وکاروئ:

فاتحه	الله اکبر	قبله	هغه څه يې چې له قرآن کريم څخه ياد وي

مسلمان د لمانځه پر مهال .....ته مخ کوي، د لمانځه په پيل کې .....وايي، بيا .....سورت لولي او ورپسې هغه .....





پوښتنې:

س۳: شاعرو ايي:

زويه اودس وکړه او لمانځه ته پاځېږه **** خپل رب ته لمونځ وکړه چې خوښي يې تر لاسه کړې

زويه، په پاکو اوبو لمونځ وکړه. **** د اوداسه اوبه دې د مخ لپاره روښنايي ده.

کله چې الله د مسلمان څخه راضي شي **** نو د ټول عمر نيمکرغي يې نصيب شي

مخکې تر انه وو ايه او لاندې پوښتنې ځواب کړه.

أ- مسلمان په څه شي اودس کوي؟

ب- د لمانځه له کټو څخه يوه کټه ووايه؟

س۴: د لاندې ځوابونو څخه سم ځواب غوره کړه:

أ- په لمانځه کې له لاندې ځايونو څخه يو ته ګورم.

چت. ديوال. د سجدې ځای.

ب- په رکوع کې دواړه لاسونه ږدم په:

دواړو زنګنونو. دواړو پنډيو.



پوښتنې:

ج- په سجده کې وایم:

سُبحانَ ربي الأعْلى.

سُبْحان ربي العَظِيم.

س٥: د (أ) د کالم جملې د (ب) د کالم له مناسبو جملو سره ونښلوئ:

په سجده کې مې وایم	سُبْحان رَبي العَظِيم
په رکوع کې مې وایم	سُبْحان ربي الأَعْلى
د دواړه سجدو په مینځ کې وایم	سَمِعَ اللهُ لِمَن حَمِدَه
له رکوع څخه د پورته کېدو پر مهال وایم	ربِّ اغفِرْ لي
	اللهُ أكبَر



لسم لوست [۲۲] د لمانځه باطلوونکي [۲۳]

لمونځ له لاندې کارونو څخه په یو باطلیږي:

۱- خوراک



۲- څښاک



۳- خبرې کول



۴- خندا کول



۵- په تشو متیازو، ډک اودس ماتي او باد وتلو باندې اودس ماتېدل.

۶- زیات حرکت کول

کله چې له دغو باطلوونکو شیانو څخه د لمانځه پر مهال یو شی وشي لمونځ باطلیږي او باید چې راوګرځول شي.

په لمانځه کې عاجزۍ کولو ته ډیره پاملرنه وکړه.

ښوونکې ته:

- د زده کوونکو سره د لمانځه باطلوونکي تکرارول.
- په لمانځه کې په عاجزۍ کولو ټینګار.
- یو څو زده کوونکو ته دنده ورکول چې د نورو ملګرو په مخکې عملي لمونځ وکړي او له نورو غواړو چې غلطیاني یې اصلاح کړي.
- د دې وضاحت چې اودس؛ د اوداسه له باطلوونکو څخه په یو سره ماتیږي لکه: (د دبر له لارې) غږ او یا باد وتل.
- دا تشریح کول چې په لمانځه کې قصدا خبرې کول، لمونځ باطلوي.

د لوست موخې:

- چې زده کوونکی د لمانځه باطلوونکي بیان کړي.
- زده کوونکی پدې پوه شي چې کله د چا لمونځ باطل شي نو باید څه وکړي.



پوښتنې:

س۱: د لمانځه باطلوونکي وښیه.

.....

.....

.....

.....

.....

.....

س۲: کله چې د لمونځ کوونکي لمونځ باطل شي باید څه وکړي؟

.....

.....





پوښتنې:

س۳: په لاندې راتلونکو هریو حالت کې د لمانځه باطلوونکی وښیه:

أ- یو زده کوونکي په لمانځه کې خپل ورور انس ولیده چې د هغه قلمداني یې اخیسته نو ورته یې وویل: (زما قلمداني کیږده)؟

.....

ب- زده کوونکي په داسې حال کې د کور د باندنۍ دروازې زنګ واوریده چې لمونځ یې کاوه، نو ولاړ چې دروازه خلاصه کړي، بیا د لمانځه د پوره کولو لپاره بیرته راغی.

.....

ج- زده کوونکي په لمانځه خپل کوچنی ورور ولیده چې هڅه یې کوله روان شي، نو راولویده او ده وخندل.

.....

